PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

هلاک او تباهي ده ډنډې وهونکو ته. هغوی چې له خلکو څخه راپیمانه کوي نو پوره يې اخلي او چې نورو ته پیمانه ورکوي او یا څه ورتلي نو کمې پکې کوي آیا پدې باور نلري چې راپورته به کړای شي. یوې لوی ورځې ته. پدې ورځ بـه تـول خـلـک د رب العالمین په وړاندې ودرېږي. (سورة المطففین: ۱ - ٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که: پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: آنکه بخدا و روز آخرت ایمان دارد، باید مهمان خـود را احترام کند و آنکه بخدا و روز آخرت ایمان دارد، باید در انجام صلهء رحم پیوسته اقدام کند و آنکه بخدا و روز آخرت ایـمـان دارد، باید سخن خیر بر زبان راند و یا خاموش شود. (ریاض الصالحین)

شهادت خلورم کال، ۴۷ مه ګڼه، پرله پسې ۱۹۸ مه ګڼه شنبه ۱۳۹۱ هـ ل د کب ۲۲ مه د۱۴۳۴ هـ ق د جمادی الاول ۴ مه د۲۰۱۳ م د مارچ ۱۲ مه

د کانکور د ښکرورو درغلیو خلاف د حزب اسلامي د ځوانانو لاریون

که چېرې زمونږ حقه غوښتنو ته مثبت ځواب ونه ویل شي، نو په مرکز او ولایاتو کې به پـه پـراخـو لاریـونـونـو لاس پـورې کـړو

په دا ډول ستر ملي خیانت چوپه خـولـه پاتې کـېـدل د خـپـل ولـس لـه راتـلـونـکـي او هـېـواد سـره سـتـره جـفـا ده

شهادت:

دحزب اسلامي ځوانانوپه کانکور کې درغلیو اوفساد پـه وړانـدې یـو پـراخ لاریون وکړ چې ترزرو زیاتو محصیلینو اوځوانانو پکې ګډون کړې و داسوله ییز لاریون دچهارشنبې په سهار نـهـه بـجـې دکابل ښار د ده بوري له څلورلارې پـیـل اودلـوړو زده کـړو دوزارت پـه لـور وخوځیده، لایون کونکو دلوړو زده کړو دوزارت مخې ته دکانکور دلغوه کیدو اودوزیر داستیضاح شعارونه ورکـول د لوړو زده کړو وزارت په دروازه کې تـر یوه ساعت تمکیدو وروسته دپارلمان پـه لورحرکت وکړ اودپارلمان په مخ کـې

پاتې ۳ مخ

د ننګرهار امیرشهید بڼ د غصب هڅې هم روانې دي

په دې ولایت کې د ځمکو د غصب په اړه د سیمه ییزو چارواکـو بـې غوري، نه جدي تـوب او اداري فساد ددې لامل شوی، چې اوس یو شمېر خلکو د دولتي ځـمـکـو، باغونو او ښوونځیو غصب ته هم ملا تړلې.

(ذبیح الله زمری د ولایتي شورا وکیل)

کابل، رسنۍ:

د ننګرهار د ولایـتـي شـورا یـو شمېرغړي وایي، په ننګرهار کـې د ځمکو د غصب مساله تـر دې رسیدلې؛ چې اوس یـو شـمـېـر کسانو د جلال اباد ښـار پـه زړه کې د امیرشهید دولتي بڼ غصب ته هم ملاتړلې ده.

د دغو استازو پـه خـبـره پـه دې ولایت کې د ځمکو دغصب پـه اړه د سیمه ییزو چـاروا‌کـو بـې غوري، ...

پاتې ۴ مخ

امریکا یک تعداد زندانیان افغان را به حکومت افغانستان تسلیم نمی کند

شاید اعلامیهء رئیس جمهور کرزی باعث شود تا خطـر حـمـلـه از سوی نیروهای امنیتی سرکش افغان و شورشیان بالای نیروهای ناتو بیشتر شود.

کابل، رسانه ها:

ایالات متحدهء امریکا از تحویـل دادن یک تـعـداد از زنـدانـیـان زنـدان بـگـرام بـه حـکـومـت افغانستان امتناع ورزیده و گـفـتـه است، این زندانیان بـه مـقـایـسـه ۳۰۰۰ زندانی که قبلاً به حکومت افغانستان...

بقیه در صفحه ۴

پیام تسلیت

شهید الحاج عبدالقیوم ابراهیمی

شهید حاجی شیرخان ابراهیمی

رئیس و شورای اجرائیه حزب اسلامی افغانستان مراتب تاثرات عمیق خویش را نسـبـت بـه فاجعهء دردناک ولسوالی امام صاحب که منجر به شهادت جناب حاجی صـاحـب شـیـرخـان ابراهیمی والد محترم جلالتمآب عبدالروف ابراهیمی رئیس ولسی جرگه، الحاج عـبـدالـقـیـوم ابراهیمی قوماندان امنیه ولسوالی امام صاحب ولایت کندز برادر شان و نوجوانان رشید هر یک عبدالصبور ابراهیمی و عبدالمعروف ابراهیمی برادر زاده های شان و همسنگران مجاهـد آنـهـا گردید خدمت جلالتمآبشان، محترم عبداللطیف ابراهیمی مشاور جلالتمآب رئیس جمهور، خانواده وزین ابراهیمی و قاطبه اسرهٔ جهاد و ملت شهید پرور ما تقدیم داشته از درگاه رب العـزت بـه جمیع شهداء فردوس برین استدعا نموده و به خانواده ابراهیمی و بازماندگان شهـداء صـبـر جمیل و اجر بی پایان مسئلت مینمایند.

از ملت بزرگ افغان پوشیده نیست که خانوادهٔ ابراهیمی بحیث بزرگترین محور جهاد و مقاومـت و نیرومند ترین رکن وحدت ملی در طی بیشتر از سی سال از هیچنوع قربانی در راه اعلای کلمهٔ الله و آزادی و سر بلندی وطن عزیز دریغ ننموده اند اما دشمنان اسلام ، رفاه ، عزت و سرفرازی افغانستان با به کار گرفتن مزدوران فریب خورده گمان میبرند با به شهـادت رسـانـدن ایـن عزیزان میتوانند به اهداف شوم شان نایل آیند و با پامال ساختن همه ارزش های اسـلامـی و انسانی بی حرمتی به عبادت گاه های مسلمانان و اماکن امن میدان های ورزشی ملت ما را بـه اسارت خواهند کشید ولی ما تاریخ پر افتخار افغانستان را به این حقیقت گواه میگیـریـم کـه مزدوران اجنبی هیچ گاه هم در سرزمین شهیدپرور ما به مراد نرسیده اند.

حزب اسلامی افغانستان از دولت جمهوری اسلامی افغانستان اکیداً میخواهد عاملان جـنـایـت پیشهٔ این فجایع هولناک را رده یابی نموده و به سزای اعمال شان برسانند .

(راه شهدای ما جاودان و جایگاه شان بهشت برین)

قیام ۲۴ حوت هرات آغازگر همه گانی انقلاب اسلامی درکشور

بسمل

تجاوز اتحاد شوروی وقت به افغانستان زلزلهء بزرگ نظامی، سیاسی، اجتماعی و اقتصادی وحشتناک و مدهشی بود، اگر چه مرکز زلزله افغانستان بود، اما قاره آسیا، کشورهای اسلامی و جهان غرب را نیز تکان داد، این حرکت کاملاً غیر مترقبه و غیر منتظره بود که جهان را مات و مبهوت ساخته و جهانیان را در هراس انداخت که پس لرزه های بزرگ این زلزله مهیب و ویران گر در سایر کشورها چه اتفاق خواهد افتاد، جهانیان نه تنها هیچ گونه مقاومتی را از جانب مردم افغانستان علیه متجاوزین تا به دندان مسلح تصور نمی کردند، بلکه افغانستان را بدون دغدغه در کام کمونیزم فرو رفته می پنداشتند، ...

بقیه در صفحه سوم

سرلیکنه — د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

داسې بربنډه درغلي چې خپل ثبوت پخپله وړاندې کوي

که څه هم هر کال د کانکور په ازموینه کې تکي درغلي شوې خو سږ کال چې کوم څرګنده او بربنډه درغلي شوی دا نو د افغانستان په تاریخ کې بې ساری ده، دا داسې ښکاره درغلي ده چې پخپل ځان پخپله ګواهي ورکوي، په دې اړه چې یو سړی څومره ډېر سوچ او فکر وکړي همغومره یقین یې پخېږي چې درغلي ښه په پراخه پیمانه شوې ځکه چې د ازموینې نتایج پخپله د درغلي پر ثبوت دلالت کوي.

لکه څنګه چې باران په آسمان کې د وریځو په شتون دلالت کوي همداسې د کانکور سږني نتیجې هم په درغلي دلالت کوي. د سلیم عقل خاوند ددغو نتیجو په لیدلو سره ګوته په غاښ کېږي او ضمیر یې فوراً همدا یو ځواب ورکوي چې ښه بربنډه درغلي شوې. د عالي تحصیلاتو د وزارت له چارواکو پرته ټول هېوادوال په دې خبره یوه خوله دي چې درغلي شوې ځکه خو هر لورې شور او غوغا پورته شوې، لاریونونه او مظاهرې کېږي، په راډیو، تلویزیون او اخبارونو کې د درغلیو بحثونه کېږي، شاګردان خپل روا حق غواړي او د لوړو زده کړو د وزیر د مستعفي کېدو، او عدالت ته د راکشولو جدي غوښتنه کوي، خو د لوړو زده کړو وزیر بیا د کانکور ازموینه له هر ډول درغلیو او فساد څخه پاکه او شفافه بولي او هېڅ ډول مسؤولیت منلو ته نه چمتو کېږي. په داسې حال کې چې درغلي له ورایه ښکاري او د هر چا په ژبه همدا یوه خبره ده چې د شفافې ازموینې د ثبوت لپاره داسې کوم دلیل نه تر سترګو کېږي چې د درغلي نفې وکړي، وزیر صاحب د ازموینې د شفافیت دعوه خو کوي مګر د ثبوت لپاره ورسره هېڅ دلیل نشته چې ولس وربانديې قانع کړي، ددې برعکس کوم خلک چې د درغلي دعوه کوي هغوی قوي دلایل، اسناد او ثبوتونه لري چې هر چاته په زغرده وړاندې کوي او قناعت ورته ورکوي.

قانون او عدالت قوي دلایلو، ثبوتونو او ګواهیو ته اهمیت ورکوي، هر څوک چې په عدالت کې د خپلې بې ګناهۍ ثبوت وړاندې نه کړي او وربانديې د لګیدلو تورونو مؤثره دفاع ونه کړی شي هغه یوازې په دې خبره برئت نه شي ترلاسه کولې چې زه بې ګناه یم. دا چې تراوسه پورې د لوړو زده کړو وزیر د کانکور ازموینې د شفافیت په اړه هېڅ دلیل نه دی وړاندې کړې او شاید کله هم وړاندې نه کړی شي دا نو ددې خبرې ستر دلیل دی چې د کانکور په ازموینه کې هرو مرو تکي شوی دی، خو د دومره قوي ثبوتونو او دلایلو سره سره بیا هم د لوړو زده کړو وزیر د درغلیو تورونه په کلکه ردوي او وایي چې د دایکنډي شاګردانو پخپل لیاقت نومرې اخیستې که چېرته واقعیت همداسې وي نو دا ګز دا میدان! هغوی هم ژوندي دي او د ازموینې سوالونه هم موجود دي، له هغوی نه دی صرف له سلو کسانو څخه په همدغو سوالونو کې یو ځل بیا په یو دریم ځای کې ازموینه واخیستل شي که هغوی په دې ازموینه کې دوه سوه نومرې هم خپلې کړې نو دا به د تیرې ازموینې پر شفافیت ستره ګواهي او د وزیر صاحب د ادعا لپاره ښه ثبوت وي، که نه نو وزیر صاحب دی له خپل ولس څخه د بخښنې په غوښتلو سره له خپلې دندې استعفا ورکړي.

دا سیاسي وژنې زموږ د کوم درد دوا شوي دي؟!

عبیدالله صافي

که سیاست د ولس د خدمت، د قانون د سرلوړی او د ولسونو د یووالې لپاره وشي نو په عبادت کې شمارل کېږي او که د خپلو شخصي ګټو، استعلا غوښتنو او قومي تعصبونو لپاره وشي نو هغه فساد، بغاوت او ګناه ګڼل کېږي.

په کومو هېوادونو کې چې سیاست یواځې او یواځې د خاورې، ولس او عقیدې د خدمت لپاره پرمخ وړل کېږي هلته واقعاً هره ورځ د ولس او خاورې په ګټه مثبت بدلون تر سترګو کېږي او ولس له دغه سیاست نه ډېره اوچته ګټه ترلاسه کوي، مګر په کومو هېوادو کې چې سیاست صرف د خپلو شخصي ګټو د تأمینولو او له ناروا لارو اقتدار ته د رسېدو لپاره کېږي هلته بیا هر لوری د وژنو، څورونو، تعصبونو او ظلم زیاتي بازار ګرم وي چې د افغانستان هېواد هم د غلطو سیاستونو په قطار کې لومړی مقام لري.

له بده مرغه په افغانستان کې اکثر سیاسي ګوندونه سیاست د عبادت لپاره نه بلکې د خپلو شخصي ګټو لپاره کوي هر څوک چې د خپلو ګټو او اقتدار ته د رسېدو په لاره کې خنډ ووینې ددې پرځای چې د سالم سیاست له مخې له هغه سره سالم رقابت وکړي او د ولس د زړونو د ترلاسه کولو له لارې له هغه نه مخکې شي برعکس په شیطاني عملونو لاس پورې کوي، ورته کمین نیسي او د کلاشنکوف پر کولیو دهغه وجود غلبیل کوي او یا هم د ځانمرګي بریدونو له لارې له منځه وړي چې راتلونکي لپاره دهغه په وړاندې کوم خنډ پاتې نه شي، په داسې حال کې چې دا کار نه د هېواد په ګټه دی او نه هم د ملت په ګټه بلکې دا له ولس سره داسې نه جبران کېدونکی جفا ده چې د هېواد د استحکام بنیادونه نړوي او هېوادوال له یوې لوی بدبختي سره لاس او ګریوان کوي.

پکار خو دا و چې هر افغان د یو مسلمان په حیث خپل ایماني مسؤولیت ته په ډېره مینه غاړه ایښې وای او سیاست یې یواځې او یواځې د الله تعالی د رضا د ترلاسه کولو او د خپل هېواد او ولس د ښه خدمت په خاطر کولای خو ډېر افسوس چې تر ننه پورې د ډېرو تش په نامه سیاسي مشرانو په ذهن کې داسې کوم بدلون رانغې چې له منفي سیاست سره یې خدای پاماني، او مثبت سیاست یې خپل منهج ګرځولې وای، د یو بل د وژلو، ربړولو او بې ځای تنقیدونو او نیوکو پرځای یې د یو بل د زغملو او د یوې سالمې پالیسۍ د وړاندې کولو له لارې خپل سیاسي رقیب ته یې ماته ورکړی وای.

د تېرې چهارشنبې په ورځ چې د پارلمان رئیس ښاغلي ابراهیمي د کورنۍ څلور غړي په ځانمرګي برید کې په شهادت ورسول شول دا د همدغه غلط او ناروا سیاست نتیجه ده چې ډېرو پردي پالو او خودغرضو سیاسي ګوندونو مشرانو له ډېر پخوانه په کار اچولی، په داسې حال کې چې دغه غلط سیاست هېواد او ولس ته له تاوان او دردونو پرته بل هېڅ ګټه نه ده رسولې، تراوسه سلګونه مشران او مطرح خلک ووژل شول، هېواد او ولس مو له سترو سترو تاوانونو سره لاس او ګریوان شو خو زمونږ دغو پردي پالو د عبرت درس وانخست، هغه سیاست او منهج یې خپل نه کړ چې ولس او خاورې ته نیکمرغۍ او سعادت وروبخښي. د افغانستان جنګ ځپلي ولس ددغو خرڅ شویو مشرانو له دغه ناوړه سیاست نه تر پوزې راغلي دي او نه غواړي چې نور دغه ناوړه او ظالمانه سیاست دوام ومومي، که چېرته سیاسي اشخاص واقعاً په افغانستان کې د خپل ولس او خاورې د خدمت په دعوه کې رښتوني دي، نو بیا د ملت غوښتنه داده چې دوی دې د عبادت سیاست خپل کړي او د یو بل د وژلو پرځای دې د سالم او رغنده سیاست له لارې له یو بل نه د وړاندې کېدو لاره خپله کړي، ترڅو دافغانستان کړېدلی ولس له اوږدې مودې نه د روانو غم لړلیو پېښو نه خلاصون ترلاسه او د نورو مهذبو نړیو په څېر دسالم سیاست او رغنده رقابت له لارې دخپل سرنوشت ټاکلو حق ترلاسه کړي.

ښه به دا وي چې دغه پردي پال سیاسي مشران نور د خپل مظلوم ولس پر سرنوشت دغه ناوړه او خونړی لوبه پای ته ورسوي، که نه نو هغه وخت رانژدې شوې چې ټول ملت دهغوی په خلاف ملي پاڅون وکړي او خپل منطقي انجام ته ورسوي.

ضرورت گزینش میانجی در پروسهٔ صلح

اعزامی

ایالات متحدهٔ امریکا، ناتو، سازمان ملل متحد، افغانستان، پاکستان، کشورهای همسایه و منطقه و بالاخره گروه طالبان و تمامی گروپ های مخالفین مسلح و غیر مسلح شعار صلح سر می دهد و در جهت رسیدن به صلح تلاش می نمایند، ولی باوجود این همه مساعی بحران در کشور ما ادامه داشته و هنوز هم جنگ زبانه می کشد، هر چند همه طرف ها به این نتیجه رسیده اند که جنگ راه حل معضله نیست و برای پایان دادن جنگ و بحران فعلی، راه مذاکره و مصالحه را ترجیح می دهند؛ ولی باوجود این همه سرو صداهای صلحجویانه، صلح به گمشده ای مبدل گشته که تا حال هیچ طرفی قابلیت و ظرفیت تدارک آن را بدست نیاورده است.

تحلیل گران سیاسی نیز متوجه این مسأله شده و با دقت سرگرم کشف و درک این معما اند که پروسهٔ صلح افغانستان چرا از قوه به فعل نمی آید؟ بعضی از این تحلیل گران دلیل بطائت پروسهٔ صلح را در نبود میانجی می بینند. چنانکه امریکا و ناتو از چندی به اینسو تلاش دارند تا مساعی صلح بین دولت افغانستان، طالبان و پاکستان را سرعت ببخشند، اما این تلاش ها مانند گذشته تا زمانی نتیجه دلخواه نخواهد داد که امریکا مواضع قبلی خود را ترک گرفته و اهمیت میانجی گری و نقش میانجی را در پروسهٔ درک نماید. در گفتگوهای پراگندهٔ گذشته بین بازیگران اصلی صلح (افغانستان، طالبان، پاکستان و امریکا) تفاوت های زیاد وجود داشت و بازیگران منطقوی چون ایران، کشورهای آسیای میانه، هند، روسیه و چین از صحنه خارج نگهداشته شده بودند، از این رو مذاکرات سال گذشته در قطر و آلمان به نتیجه نرسیدند و حتی طالبانی که در آن گفتگوها اشتراک داشتند، با تهدید روبرو شدند.

تحلیل گران را عقیده برآنست که امروزه در صحنه سیاسی تغییرات زیادی رونما گردیده است، نخست تیم جان کیری وزیرخارجهٔ امریکا وهیگل وزیردفاع آن کشور، درجریان فعالیتهای شان بیشتربه تلاشهای سیاسی تمرکز دارند.

ثانیاً در حکومت پاکستان بالاخص در فرماندهی ارتش آن کشور، این احساس ایجاد شده که برای جلوگیری از خشونت ها در پاکستان، اعادهٔ صلح در افغانستان یک امر ضروری می باشد. ثالثاً در میان بعضی حلقات طالبان و سایر مخالفین مسلح این ذهنیت ایجاد شده که پس از خارج شدن قوای خارجی از افغانستان، دلیلی برای ادامهء جنگ باقی نمی ماند. رابعاً با خارج شدن نیروهای خارجی و انتقال مسؤولیت های امنیتی به نیروهای داخلی، دولت افغانستان توان ادامهٔ جنگ را در درازمدت نداشته و از همین رو آمادگی دارد تا به یک نحوی با مخالفین مسلح کنار آمده و به بحران فعلی پایان بدهد. خامساً جامعهٔ بین المللی فیصله نموده که در قدم اول نیروهای شان را تا سال ۲۰۱۴ از افغانستان خارج می کنند و در قدم دوم بعد از چند سال به نقش حمایوی شان نیز در افغانستان خاتمه می دهند.

انکشافات فوق همه حاکی از آنست که همه اطراف درگیر به این نتیجه رسیده اند که بحران افغانستان راه حل نظامی ندارد و بایست همگان خود را برای پذیرش یک راه حل سیاسی آماده سازند. ولی این امیدواری ها تنها با حرف و تمنا بجایی نمی رسد و برای راه اندازی پروسه صلح ایجاب می کند که بر روش گذشته یک تجدید نظر کلی صورت بگیرد. پیش برد مذاکرات صلح به شکل کنونی آن که امریکا تلاش دارد، میان افغانستان، پاکستان و طالبان میانجیگری نماید، دستاوردی نخواهد داشت. زمان آن فرا رسیده که واشنگتن خود را تکان داده و به روش گذشته اش تجدید نظر کند و قبل از همه این حقیقت را درک کند که درین شرایط امریکا نمی تواند با حفظ ستراتیژی قبلی و به میانجی گری خودش، صلح را در افغانستان تأمین نماید. همچنان امریکا نمی تواند با حضور عساکرش در افغانستان، با بمباران های هوایی و عملیات های شبانه و با تجاوز به حریم پاکستان بوسیله طیاره های بدون پیلوت، باز هم یک میانجی مؤثر و قانع کننده برای همه اطراف باشد و جنگ را به شکل صلح آمیز آن خاتمه بدهد.

نایل شدن به صلح ایجاب می کند که همه اطراف نخست ذهناً آماده شوند که شامل پروسه صلح و مذاکره می شوند و برای وصول به این هدف پیش شرط های بلند پروازانه و غیر عملی را کنار بگذارند و مهمتر از همه برای از خودگذری و تنازل آمادگی بگیرند. ثانیاً همه اطراف برای پذیرش یک گروپ میانجی مخلص و بیطرف توافق نمایند، زیرا هیچ پروسه صلح بدون تشکیل هیأت صلح به هدف نایل نمی شود.

هیأت میانجی عبارت از همان گروپ مصلحین می باشد که اعضای آن به توافق جانبین قضیه و تائید اطراف ذیدخل تعیین می شوند. هیچ طرفی نباید به تنهایی و بطور یکجانبه هیأت صلح را تعیین کند، بلکه هیأت صلح به توافق جانبین و تائید اطراف ذیدخل قضیه تعیین گردند و همچنان هیچ هیأت صلحی بطور خودرو و خود خوانده روی صحنه نمی آید، بلکه میانجگیری و اصلاح از خود مواصفات و شرایطی دارد که اطراف درگیر با دیدن آن شرایط در اشخاص مورد نظر، آنها را به میانجگیری بر می گزینند.

شاید اطراف قضیه، بنابر صوابدید خویش افرادی را واجد میانجگیری دانسته و آنها را به صفت مصلح تعیین نمایند، ولی این گزینش زمانی قاطعیت می یابد که طرف مقابل و اطراف دیگر، به میانجگیری آنها قناعت نموده و پس از یک توافق و عقد قرارداد، وی را به صفت هیأت میانجی بپذیرند.

میانجگیری و اصلاح میان دو فریق و یا دو دولت زمانی نتایج مثبت را در پی دارد که میانجی با داشتن مواصفات میانجگیری، بخاطر کسب رضای خدا و مصالح امت، میان دو طرف مصالحه نماید. داشتن دو صفت قبل از صفات دیگر در میانجی ضروری می باشد: نخست اینکه میانجی، از عملیه صلح، مزد و یا امتیازی برای خود توقع نداشته و کارش را فقط بخاطر کسب رضای خدا و حل مشکلات مسلمانان انجام بدهد. ثانیاً اینکه در اظهار نظرش مستقل بوده و تحت تأثیر هیچ طرفی قرار نداشته باشد. اگر میانجی ها حین مصالحه بجانبداری از این طرف و یا آن طرف موضعگیری کند، در آن صورت میانجی ها در موضع طرف ها قرار گرفته و با محاجه و مقابله، کار اصلاح را به بن بست می کشانند.

بناء بر تمام اطراف درگیر اعم از داخلی و خارجی لازم است که آمادگی های ذهنی شان را مبنی براینکه بحران افغانستان از طریق مذاکره و مصالحه خاتمه یابد، منسجم و هماهنگ نمایند و برای راه افتادن عملی پروسهٔ صلح هر چه زودتر به گزینش هیأت صلح (میانجی) اقدام نمایند.

تورن غلام سخی

پلنگان خوابیده و شیران بیدار

در یکی از کوهساران شیران، پلنگان و سائر حیوانات وحشی و غیر وحشی زیست داشتند، پلنگان با غرور و تکبر بالای افراد پائین تر از خویش حکومت میراندند و شیران را احترام مینمودند، شیران که پادشاهان جنگل بودند همیشه مترصد احوال پلنگان بوده که گاه قلمرو جنگل حکومت داشتند، بفکر آن بودند که با قدرت و توان خود به پادشاهی رسیده اند، اینرا نمیدانستند که شیران بیدار مراقب اوضاع اند و اطلاعات قوی را از حریم جنگل بدست میآورند، پلنگان که در تحت سیطره نظام شیران بودند، ناگهان در برابر شیران قیام

گاهی از اوامر پادشاه جنگل با حیله و نیرنگ سرباز میزدند و در خفا بخاطر بدست آوردن طمعهء بر دیگران حمله مینمودند و حتی شیران را هم مورد انتقاد قرار میدادند. ناگهان اوضاع رو به وخامت گراید، روابط پلنگان خوابیده و شیران بیدار وخیم تر شد.

پلنگان که به دستور شیران در نمودند، اعلان استقلال و ادعای مالکیت را بالای جنگل نمودند شیران را متهم به قانون شکنی و ظلم و تجاوز نمودند. شیران هم آرام آرام از توطئه پلنگان خود را مطلع ساختند و ادعاهای پلنگان را رد نموده تا اینکه روابط تیره تر شده رفت، شیران بخاطر اینکه بتوانند اینها را بیشتر زیر فشار بگیرند، با پلنگان دیگریکه با شیران در حاشیه جنگل می جنگیدند روابط مخفی برقرار نمودند تا بتوانند از اینطریق فشار بیشتری بالای پلنگان قدرت طلب بیاورند. بالاخره این نزاع و کشمکش بجائی رسید، فضای بی اعتمادی جنگل را فرا گرفت، از ترس همه اهالی جنگل را ترک گفتند، پلنگان هر قدر به شیران توصیه نمودند تا اصول جنگل را مراعات نمایند مگر شیران خشم گین که در جنگ با پلنگان اجنبی اکثر افراد خود را از دست داده بودند، دیگر باور بالای بلنگان بی خبر از خود نداشتند. فضا بیشتر تیره شد، امیدها قطع گردید، همه سراسیمه و شتابزده در حواشی جنگل پناهنده شد.

سرانجام شیران آب و غذا و شکار را بالای پلنگان قطع نمودند و پلنگان را از پا درآورده و صلابت رهبری جنگل را به طایفه دیگری از پلنگان تسلیم نمودند، و نظام متزلزل شیران و پلنگان از هم پاشید و روابط دوستی آنها بخاک یکسان شد، و قومی دیگری را به پادشاهی جنگل رساندند.

بزرگان گفته اند:

دشمن دانا که غـــم جـــان بود
بهتر از آن دوست که نادان بود

زندگینامهء مختصر مرحوم ملامحمد حنیف (صداقت یار)

ملا محمد حنیف (صداقت یار) فرزند ملا محمد شریف یکتن از قوماندانان حزب اسلامی چهره در نقاب خاک کشید مرحوم (صداقت یار) در یک خانواده متدین و روحانی در قریه (فرغامو) ولسوالی میگان ولایت بدخشان ۶۵ سال قبل از امروز چشم به جهان گشود.

موصوف تعلیمات ابتدائی را در دامان خانواده آموخت با استفاضه از تعلیمات دینی جهت ادامه باقیمانده تعلیمات خویش به مناطق مختلف ولایات بدخشان، تخار شتافت. تا اینکه در جریان تحصیل علم در سال ۱۳۵۷ بعد از کودتای رژیم کمونیستی علیه دژخیمان روس به مقابله و جهاد پرداخت و تا آخرین روز شکست قوای روسی و حکومت دست نشانده آن فریضهٔ مقدس جهاد را ادامه داد. بعد از اینکه عرصه مبارزه و جهاد در منطقه شان تنگ گردید. جهت ادامهء مقابله بیشتر با دشمن به ولسوالی های شهدا، ارگو، کشم با سایر همرزمان و مجاهدان عقیدتی اش یکجا در جهت مقاتله با دشمن شتافت.

مرحوم صداقتیار در دوران بعد از جهاد در بستر آرام نگرفته به دعوت و تعلیم فرزندان مجاهدین راه خدا ادامه داده و همیشه در پهلوی یاران همراه اش قرار داشت تا اینکه سرانجام (صداقت یار) با قبول همه تکالیف، و فشارهای بیگانه گان و حامیان شان بتاریخ ۱۵/جدی/۱۳۹۱ داعی اجل را لبیک گفته و به دیار باقی شتافت. جنازه مرحومی از طرف اقارب بازماندگان شهدا و اعضای محترم حزب اسلامی و سائر بزرگان منطقه اجرأ و بعد از ادای نماز جنازه شان بخاک سپرده شد.

(روحش شاد و یادش گرامی باد)

د کانکور د ښکرورو درغلیو ...

یې هم ورته شعارونه ورکړل، له پارلمانه یې غوښتنه وکړه، چې د کانکور کمېټه دې د لوړو زده کړو له وزارت څخه بېله او په یوه خپلواکه اداره بدله شي او د کانکور په ازموینه کې دې هر ولایت ته عادلانه برخه ورکړل شي.

د کانکور په ازموینه کې، چې پایلې یې د کب په لسمه اعلان شوې، د ټول هېواد په کچه په کې له ۱۷۵ زرو نه زیاتو کسانو ګډون کړی و، چې له دې ډلې له ۴۲ زرو نه زیات یې د لوړو زده کړو او ۱۳ زره نور یې د نیمه لوړو زده کړو موسسو ته بریالي شول د کانکور په دې ازموینه کې له یو شمیر ولایتونو سره دمیرې مورسلوک وشو او د خینو ولایتونو داسې نتیجې راوتلې چې دهیواد په تاریخ کې یې سارې نه لیدل کېږي دبیلګې په توګه دایکندي چې دهیوادیو وروسته پاتې ولایت دی اودکابل ،بلخ ،هرات ،ننګرهار او کندهار په پرتله پکې دزده کړې اسانتیاوې کمې دي داسې پایلې راڅرګندې شوې چې عقل یې نه مني. دبیلګې په توګه د ننګرهار، بلخ، او کندهار په شمول په اته ویشت ولایتونو کې دهغه خوانانو چې نومری یې تر درې سوو زیاتې وی ټول اووه سوه تنو ته رسېږي خو یواځې په یودایکندې کې چې له درې سوو نه پورته نومرې یې وړې دي شمیر یې اته سوو ته رسېږي. پداسې یو ولایت کې چې په ټول ولایت کې یې یو معلم هم لیسانس نه وي هلته څنګه ۸۰۰ سوه تنه تر درې سوه زیاتې نمرې وړې اوپه هغه ولایتو کې چې ډېرې استادان یې لسانسه دي ۲۸ ویشت ولایتونه هم دیو ولایت په اندازه نمرې نه شي اخیستې نو دا او دېته ورته زیاتې بیلګې دي چې دلته یې راوړل مناسب نه ښکاري، نو پداسې ستر ملي خیانت چوپه خوله پاتې کیدل له خپل ولس او هېواد سره ستره جفا ده. نو دهمدې ملي او اسلامي غوښتنې په اساس دحزب اسلامي خوانانو دا ستر لاریون ترسره او د اشعارونه یې ورکول: "موږ عدالت غواړو، زموږ له برخلیک سره ولې لوبې کېږي؟ حق دې حقدار ته ورسېږي."

د حزب اسلامي د ځوانانو ټولنې مشر ډاکټر سیف الدین عمرخېل وایی چې: دا لاریون موږ په دې موخه کړی چې د ځوانانو هغه ضایع شوې حقوق وغواړو چې په کانکور ازموینه کې تر پښو لاندې شوي دي.

هغه د کانکور ازموینه له درغلیو ډکه او غیر عادلانه وګڼله او د کانکور د پروسې د درغلی کوونکو د محاکمې غوښتنه یې وکړه، لاریون دغرمې په یوه بجه دولسي جرګې دغړو سره تر خبرو وروسته پای ته ورسیده.

د حزب اسلامي ځوانان وایي که چیرې د دوی غوښتنو ته مثبت ځواب ونه ویل شي نو دوی به په ولایاتو او مرکز کې پر پراخو لاریونونو لاس پورې کړي او ترهغې به په کراره کیننې چې د دوی غوښتنو ته مثبت ځواب نه وي ویل شوی.

قیام ۲۴ حوت هرات آغازگر همه گانی انقلاب اسلامی درکشور

(ادامهء از صفحه اول)

...اما این ملت به ظاهر فقیر و کوچک ولی در حقیقت بس بزرگ و سرشار از غنای ایمان، غرور، عزت، استقلال خواهی و آزادمنشی که در درازنای تاریخ سابقه درخشان دارد عدم تصور جهانیان را به قیام در برابر قشون سرخ به یک حقیقت عملی مبدل ساخت که این حقیقت)جهاد(برحق مردم مسلمان افغانستان است که علیه هیولای کمونیزم که بیشتر از نصف جهان را بلعیده بود سامان گرفت، پدیده جهاد ملت افغانستان را یکبار دیگر به معرفی گرفت، و برومندترین قوت آزادی بخش در جهان ثابت شد. جهاد نه تنها آزادی و استقلال افغانستان را احیأ کرد، بلکه با انقراض امپراطوری شوروی بسیاری از کشورهای تحت سلطه استعمار به آزادی دست یافتند، روح جهان از شر وحشت کمونیزم آرامش یافت، جان مطلب در اینجاست، جهانی که شکست ناپذیری قشون سرخ را در اذهان خویش مسلم ساخته بودند، و مردم ممالک اسیر حکومت های کمونیستی گردیده بود و تصور آزادی را هم نداشتند، جهاد ملت بزرگ افغانستان با شکست مفتضحانه امپراطوری شوروی که شکست ناپذیری آنرا به یک افسانه مبدل ساخت و ملت های اسیر یوغ استعمار عملاً دریافتند که شکست هیولای کمونیزم خون آشام و سایر هیولاهای استعماری در برابر

عزم ملت های با ایمان نه تنها ناممکن نبوده بلکه میتواند الگوی نجات بخش برای ملت های دربند سایر کشورها باشند. اما این همه انگیزه ها، قیام ها، استقامت ها، شهادتها و حرکت های خشم آگین که جهان را به حیرت و حرکت درآورد از کجا آغاز گردید؟

طبعیتاً پاسخ این است: شهر خون و قیام، شهر علم و عرفان، شهر اولیأ کرام، شهریکه در یک روز یعنی در ۲۴ حوت ۱۳۵۷ بیست و چهار هزار انسان مسلمان اسمعیل وار قربانگاه را استقبال میکنند. آری! قیام ۲۴ حوت آغازگر قیام همگانی، بنیان گذار انقلاب عظیم اسلامی، نماد وحدت و هم بستگی، غلبه خون بر شمشیر، درهم کوبندۀ نظام استبدادی کمونیستی و ایادی شان میباشد.

شهدای ۲۴ حوت هرات با ایمان به قله بلند جهاد از استقلال، آزادی، عزت و نوامیس ملی، با ریختن خون های پاک شان دفاع نمودند، دین بیش از یکنیم ملیون شهید انقلاب اسلامی افغانستان، بویژه شهدای ۲۴ حوت بر نسل موجود و نسل های آینده است که از افتخارات جهاد، قربانی ملت و خون شهداء حراست نمایند.

با اتحاف دعا به روح پاک همه شهداء اسلام، از فلسطین تا افغانستان بخصوص شهدای معظم ۲۴ حوت هرات باستان، یاد آنها را گرامی میداریم و هرگز فراموش شان نمی کنیم.

وحدت و سربلندی ملت آزاده افغانستان را از بارگاه ایزد منان استدعا می نمائیم.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

ځیني امریکايي چارواکي افغانستان کې د سرتېرو د پاتې کېدو ملاتړ کوي

وال ستریټ ژورنال ورځپاڼې په وروستۍ ګڼه کې د افغانستان په اړه دوه مطالب خپاره کړي.
په یوه کې یې د امریکایي پوځي قومندانانو له لوري له ۲۰۱۴ وروسته په افغانستان کې تر ډېرې مودې پورې د امریکایي پوځیانو پر پاتې کېدو بحث شوی او ویل شوي چې په افغانستان کې د امریکا دوه جګپوړي چارواکي جنرال جوزیف ډنفرډ، چې د امریکا او ناټو د قواوو عمومي قومندان دی او دغه راز په کابل کې د امریکا سفیر جېمز کنیګم د کانګریس غړیو ته ویلي چې دوی د ډېرې مودې لپاره د نسبتاً زیات شمېر پوځیانو د پاتې کېدو ملاتړ کوي.
د وال ستریټ ژورنال بله لیکنه د امریکا پر خلاف د ولسمشر کرزي د وروستیو څرګندونو په اړه د شلو افغان سیاسي ګوندونو د عکس العمل په باب ده.
ورځپاڼه وایي شلو ګوندونو او دوو ایتلافونو په یوه ګډه اعلامیه کې وویل چې د کرزي ادعاوې د خپلو نړیوالو متحدانو په وړاندې د افغانانو د نظر نمایندګي نه کوي.
خو د سولې او جنګ انستیټیوت بیا د افغانستان په شمال کې د سوداګرۍ او کاروبار په لار کې د پرتو خنډونو په اړه یو تحقیقي راپور خپور کړی دی.
په دې راپور کې ویل شوي چې د افغانستان د حیرتان بندر له لارې تجارت په ټپه درېدلی، چارواکي نامناسب مقررات او ناامني د دې علت بولي خو سوداګر وایي چې فساد سبب شوی چې دوی د حیرتان پر ځای په نورو لارو کاروبار وکړي.
حیرتان، چې له ازبکستان سره په پوله کې دی، د افغانستان یوازینی بندر دی چې دا هیواد د اورګاډي په وسیله له منځنۍ اسیا، روسیې او حتي اروپا سره وصلوي.
خو د بلخ د سوداګرۍ د خونې اجراییه رییس ارش یونسي وایي د حیرتان له لارې تجارت نابېره سقوط کړی دی. د ده په وینا په فبروري کې له دې لارې دوه زره ټنه مال وارد شوی حال دا چې د ۲۰۱۲ کال په ورته موده کې له دې لارې اتیازره ټنه مال وارد شوی و.
نیویارک ټایمز ورځپاڼې بیا د کابل بانک په اړه لیکنه چاپ کړې.
په دې لیکنه کې ویل شوي چې د افغانستان لویه څارنوالۍ غوښتي چې د اختصاصي محکمې په پرېکړې کې د بیاکتنې غوښتنه وکړي ځکه چې اختصاصي محکمې د کابل بانک په قضیه کې شاملو کسانو ته کمه سزا ټاکلې ده.
اختصاصي محکمې یوویشت تنو ته له شپږو میاشتو تر پنځو کلونو پورې د قید سزا اعلان کړې ده.
ستراتفور کمېنټرۍ د افغانستان پر لوړو او خورا پېچلیو غرونو تبصره کړې او هغه یې د نړۍ تر ټولو خطرناک غرونه بللي دي.
د دې نشریې په نظر همدا غرونه سبب شوي چې تر میلاد مخکې په څلورمه پېړۍ کې له اسکندره رانیولې، په اتیایمه لسیزه کې د پخواني شوروي اتحاد تر یرغله پورې د نړۍ غښتلي پوځونه افغانستان ونه نیولی شي.
ستراتفور کمېنټرۍ وایي چې وسله وال طالبان هم له دغو غرونو څخه د افغانستان د دولت او نړیوالو ځواکونو پرضد د خوندي ځالو په توګه کار اخلي.

از یک انفجار نیرومند در کابل جلوگیری شد (طاهری)

کابل، رسانه ها:
ریاست امنیت ملی افغانستان می گوید: از وقوع یک انفجار بزرگ که قرار بود شهر کابل را تکان دهد، جلوگیری کرده است.
مسوولان ریاست عمومی امنیت ملی افغانستان می گویند: اگر جلو این انفجار گرفته نمی شد شهر کابل شاهد بزرگ ترین و بی سابقه ترین انفجار مرگ بار می بود.
شفیق الله طاهری معاون سخنگوی این اداره به روز جمعه در جمع از خبرنگاران در کابل گفت: "موظفین ریاست عمومی امنیت ملی از انفجار ۷۸۰۰ کیلوگرام مواد انفجاری کارگذاری شده در یک عراده موتر در شهر کابل جلوگیری کردند اگر این مقدار مواد منفجر می شد شما باور کنید در بسیاری نقاط وسیع کابل ما شاید تعمیری را سالم نمی داشتیم."
آقای طاهری می افزاید که به اساس تحقیقات که آنان انجام داده اند این موتر بمب قدرت تخریب ۱۵۰۰ متر بر ۱۵۰۰ متر را داشته است.
به اساس معلومات ریاست امنیت ملی افغانستان این مقدار بزرگ مواد انفجاری از قریه آلو خیل مربوطات حوزه ۱۶ کابل بدست آمده است که در ارتباط به این قضیه ۵ تروریست کشته و دو تن دیگر آنان بازداشت شده اند.
ریاست امنیت ملی افغانستان سه روز پیش با نشر اعلامیه مطبوعاتی این موضوع را با رسانه ها در میان گذاشته بود.
اما این حمله را کدام شبکه تروریستی و به کدام هدف طرح ریزی کرده بود باز هم آقای طاهری در مورد گفت:
"حمله مشترک حقانی و شورای کویته که در خارج از مرز های افغانستان پلان گذاری و طراحی شده بود توسط موظفین این اداره قبل از انفجار شناسایی شد.
هدف آنان این بود تا بتوانند در آستانه سال نو قادر شوند که این ملت بیچاره را به خاک و خود بکشانند."
موظفین ارگان های امنیتی افغانستان در حالی از جلوگیری وقوع یک انفجار بی سابقه در کشور خبر می دهند که هنگام سفر چک هیگل وزیر دفاع ایالات متحده امریکا به افغانستان حمله انتحاری در مقابل وزارت دفاع افغانستان و ولایت خوست صورت گرفت که در نتیجه آن ۱۹ تن کشته شدند.
رییس جمهور کرزی یک روز پس از این دو حمله انتحاری در کابل و ولایت خوست گفت که طالبان این کار را به هدف خدمت به امریکا انجام می دهند.

کابل د مهمو پروژو په بشپړولو کې ناکام شوی

کابل، رسنۍ:
د روان کال (میلادي) په ترځ کې به زیات شمیر امریکایي ځواکونه له افغانستانه ووځي.
د انټر پرس سروس خبرونه د افغان کارپوهانو او رپوټونو په حواله وایي؛ چې له افغانستان سره به مرستې کمې شي او داسې سیاسي سیستم به شا ته پاته شي، چې چندان ثبات او مشروعیت نه لري.
یو شمیر کارپوهان خبرداری ورکوي، چې د امریکا په تیرو څو کلونو کې ملیاردونه ډالر په افغانستان کې د بنیادي پروګرامونو لپاره واستول؛ خو د کابل حکومت د واشنګټن لپاره د مهمو پروژو په بشپړولو کې ناکام شوی.
په دې کې د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې اوتجهیز پروګرامونه هم شاملیږي.
د دې ستونزې لوی دلیل په خصوصي امریکایي قراردادي کمپنیو کې مالي فساد، د افغان حکومت د فعالیت په وړاندې د امریکا بې پروایي او د ولسمشر کرزي د حکومت ضعف بلل شوی دي.
د امریکا د سولې په انستیټیوټ کې د افغانستان د چارو کار پوه "انډریو ویلډر" د انټر پرس سروس خبروني ته ویلي؛ اصلي پوښتنه دا ده، چې راتلونکي کال د مالي سرچینو له محدودیدو سره سم، موږ څرنګه کولای شو، چې پولیس او بنیادي پروژې تمویل کړو؟
په واشنګټن کې د کارپوهانو د مرکز "بروکنګز" "انستیټیوټ د افغانستان د چارو ماهرې "وانډا برون" ویلي؛ چې په تیرو څو کلونو کې له هلمند او کندهار سره د امریکا مرستو د دوامدار پرمختګ د بنسټ ایښودلو پرځای محلي اقتصاد ځپلی دی.

د ننګرهار امیرشهید بڼ...

نه جدي توب اواداري فساد د دې لامل شوی، چې اوس یو شمېر خلکو د دولتي ځمکو، باغونو او ښوونځیو غصب ته هم مخه کړې ده.
د ولایتي شورا استازي د هغه تن خبره کوي؛ چې څو ورځې وړاندې د امیرشهید په دولتي بڼ کې دېوال پیل کړی و او داسې ګنګوسې خپرې شوې، چې ګواکې د دغه بڼ د خرڅولو هڅې رواني دي.
ولایتي شورا وکیلان ډاکټر دراني او ذبیح الله زمري وایي:
"د ځمکو دغصب لړۍ اوس تر دې ورسیده، چې اوس د غازي امان الله خان د افغانستان د ویاړ نه ډک نه هغه ځای، چې د قبر نه شاوخوا د شینوالي لپاره پرېښودل شوی و اوس په هغې باندې د جعلي قبالو د تیرولو هڅه هم شوې ده.
۲ –د دوی تر شاه د چارواکو لاس دی، ځکه دغو خلکو سره، چې لوی لاسونه نه وي، نه شي کولی، چې په یوه ورځ کې دومره اوږد دیوال جوړ کړي."
که څه هم دغو وکیلانو په دې مساله کې د چا نوم وانه خیست؛ خو وایي، چې د دغو غاصبینو تر شاه د لویو کسانو لاسونه او ملاتړ موجود دی.
هغه کس، چې څو ورځې وړاندې په دې بڼ کې یې دیوال پیل کړی و؛ ډاکټرنیک محمد مومند نومیږي.
نوموړی وایي، دی دغازي امان الله خان د کورنۍ شرعي وکیل دی او وایي، دغازي امان الله خان د کورنۍ د ځینوغړو په غوښتنه یې د باغ د رغولو کار پیل کړی.
د مومند په خبره یاد باغ دغازي امان الله خان د کورنۍ شخصي ملکیت دی او دا د هغوی خوښه ده چې خپله یې رغوي اوکه یې پرېږدي چاپلوري.
خو د غازي امان الله خان لور شهزادګۍ هندیه وایي؛ د ډاکتر نیک محمد په نوم کوم کس نه پیژني او نه هم دوی د یاد باغ د خرڅولو نیت لري.
"هلته زما د پلار قبر دی، زما د مور قبر دی، هیڅکله هم موږ دا بڼ نه خرڅوو او نه د نیک محمد په نوم څوک پیژنو."
د ننګرهار والي ګل اغاشیرزی وایي؛ د امیرشهید په نوم باغ دولتي دی او هیڅوک یې د غصبولو او یا خرڅولو حق نه لري.
"زه، چې خبر شوم په امیرشهید بڼ کې دیوال جوړ شوی یا دا داسې آوازې دي، چې دا خرخیږي، ما ښاروال ته وویل، چې ورشئ؛ رنګ یې کړئ بله خبره دا، چې که څوک د دې بڼ شخصي قباله هم ولري؛ خو چې اودبرش کاله پرې تیر شي او هغه ملکیت له دولت سره وي؛ نو بیا هغه ځمکه د دولت ملکیت ګرځي."
په دې وروستیو کې په ننګرهار کې د ځمکې د غصب مساله زیاته شوې او اوس تر دې راورسیده، چې دولتي او تاریخي ځمکې هم غصب کړي.
د کتوونکو په باور که دولتي چارواکو له دې وړاندې د غاصبینو په مخنیوي کې جدي اقدام کړای واي؛ نو اوس به د دغو غاصبینو لاس تر دولتي ځمکو نه رسیده.

امریکا یک تعداد زندانیان ...

تسلیم داده شده خطرناک تر هستند، بناءً تا زمانیکه رییس جمهور افغانستان تضمین نکند که این زندانیان آزاد نمی شوند، کنترول این زندانیان به حکومت افغانستان سپرده نخواهد شد.
به نوشته روزنامه واشنگتن پست، آقای کرزی تا اکنون به این کار موافقه نکرده و حتی ایالات متحده امریکا را به نقض موافقتنامه انتقال زندانیان متهم نموده است.
رییس جمهور افغانستان به روز سه شنبه هوشدار داد که حکومت او کنترول آن بخش از زندان بگرام را که این زندانیان در آن نگهداری می شوند، بدست خواهد گرفت.
حامد کرزی همچنان ایالات متحده امریکا را به شکنجه مردم ملکی و مذاکره با طالبان متهم نمود.
به نوشته روزنامه واشنگتن پست، جنرال جوزیف دنفورد قوماندان نیرو های امریکایی در افغانستان به روز چهارشنبه به نیرو های امریکایی هدایت داد تا تدابیر امنیتی را شدت ببخشند، زیرا بگفته روزنامه، شاید اعلامیه رییس جمهور کرزی باعث شود تا خطر حمله از سوی نیرو های امنیتی سرکش افغان و شورشیان بالای نیرو های ناتو بیشتر شود.
ایمل فیضی سخنگوی رییس جمهور کرزی گفت: عدم اعتمادی که ایالات متحده امریکا روی تحویل دهی زندان بگرام و بعضی موضوعات دیگر نشان داد یقیناً که بالای موافقتنامه امنیتی دوجانبه اثرمنفی خواهد گذاشت.
یک مقام امریکایی که از گفتن نامش خود داری نموده، بمنظور جلوگیری از توسعه رویی به روزنامه واشنگتن پست گفته است، آنها درک می کنند که کرزی درداخل شنوندگان سیاسی دارد، بناءً به او فرصت می دهند تا حرف های خود را بگوید.
یک مقام بلند پایه اداره اوباما به روزنامه گفته است: "سیاست آقای کرزی نسبت به سیاست ما فرق دارد، برای ما حمایت نیرو ها مهم است و این که اجازه ندهیم شورشیان خطرناک دوباره به میدان جنگ بر گردند، برای کرزی، حاکمیت افغانستان مهم است."
هر چند که دوره ریاست جمهوری آقای کرزی در سال آینده تمام می شود، اما او و متحدین سیاسی او روی این فکر می کنند که بقای شان بعد از خروج نیرو های جنگی غرب چگونه خواهد بود، بناءً آنها تصمیم گرفته اند تا خود شان را رهبران ملی وانمود کنند.
اما کاری را که بارک اوباما رییس جمهور امریکا در جریان دو سال آینده باید تمام کند، تهیه مسوده شرایط موافقتنامه دو جانبه امنیتی است خاصتاً در این زمانی که اداره اوباما تعداد مربیون نظامی، مشاورین و نیرو های ضد شورش را که می خواهد در افغانستان باقی بمانند، نهایی می سازد، بشمول ماموریت مشخص آنها.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسوول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسوول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر. د شاداب ظفر بلاکونو شاته. خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com